


# اباډي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ګڼه: ۲۸ | مسلسل نمبر: ۷۰

شنبه، د ربيع الثاني ۲۲مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال


## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري د کابل – جلال اباد لويې لارې د دوهم لين سړک د جوړولو چارو پرانيسته وشوه



۲ صفحه

## طرح های تولید صدها میگاوات برق در داخل کشور مورد بحث قرار گرفت



۲ مه صفحه

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د سالنګونو لويې لارې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه



۳ مه صفحه

## سرليکنه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبد الغني برادر اخوند د سـالنګونو لويې لارې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه. د سالنګونو لويې لارې د ليدنې پرمهال يې د بيارغونې پر ترسره شـوو کارونو خوښي څرګنده کړه او د يادې پروژې مسـوولينو ته يې د دې ملي پروژې د کار د غوره کيفيت او پر ټاکلي وخت د بشپړېدو په هکله لازمې لارښـوونې وکړې. دغه راز د رياسـت الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري د ۱۴۰۳ لمريز کال د عقرب مياشتې په پنځمه نېټه د کابل- جلال اباد د دوهم لين سړک د عملي چارو د پيل پروژې پرانيسـتـه وشـوه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته وويل، د کابل – جـلال اباد د لويې لارې دوهم لين سړک د هېواد د داخلي اتصال او ځمکني ترانسپورټ په برخه کې هغه مهمه پروژه ده چې دوه سـتر تجارتي او ستراتيژيک ولايتونه کابل او ننګرهار په کمه فاصله يو له بل سره نښلوي. اوس چې په هېواد کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې يو قوي او مرکزي حکومت رامنځته شوی دی، هڅه يې داده چې د هېواد زېربناوې بېرته ورغوي، ځکه د زېربناوو له هغې جملې د لويو لارو رغول او جوړول اړين دي. په همدې موخه اسـلامي امارت په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. موږ او تاسو شاهدان يوو چې د اسلامي امارت له راتګ څخه بيا تر نن ورځې د لويو لارو پر رغولو کار روان دی. ددې برخې ښه مثال د سالنګونو لويې لارې بيارغونه او د کابل- جلال اباد د دوهم لين سـړک د چارو د پيل پرانيسته ده. دا دواړې مهمې ترانزيټي او سوداګريزې لارې دي او کولای شي په کور دننه سـوداګرۍ د پراختيا ترڅنګ د اسيا د نورو هېوادونو له پاره غوره ترانزيټي لار او د افغانستان له لارې ددې هېوادونو ترمنځ د سـوداګرۍ پـه پراختيا سره د ترانزيټ له پلوه زيات عوايد ترلاسه شي.

له دې لويو لارو څخه د سـالنګ او اوس د کابل- جلال اباد لويې لارې دوهم سـړک دی چې د هېواد د شا رګ حيثيت لري. د سـالنګ لويه لار چې سويلي ولايتونو له شـمالي ولايتونو او د کابل- جلال اباد دوهم لين سړک چې د هېواد زياتره ولايتونه له ختيځو ولايتونو او په پای کې دغه دواړې لويې لارې افغانستان له اسيايي هېوادونو سره نښـلوي، له ځو اړخونو د اهميت وړ دي؛ لومړی دا چـې ددې لويـو لارو پر مټ بـه د افغانسـتان کرنيز محصـولات او کورني توليـدات د ګاونډيو او سـيمې هېوادونو تر مارکېټونو ورسـېږي. دوهم د افغانستان په ګډون به د سيمې د هېوادونو له لوري د ترانزيټ په کچه کې زياتوالی راشي. دربيمه خبره داده چې ددې سړکونو په جوړېدو به هم خلکو ته د کار زمينه برابره شي او هم به يې په مسـير کې د پرتو هېوادوالـو کاروبارونه پراخ او اقتصاد به يې پياوړی شي. په لنډ ډول ويلای شـو چې ددې لويو لارو په جوړېدو به نه يوازې زموږ سـوداګري پراخه او ملي اقتصاد به مو غښتلی شي، بلکې افغانستان به يو ځل بيا د اسيا په زړه بدل شي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه اباډي
هفته نامه آبادی

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري د کابل – جلال اباد لويې لارې د دوهم لين سړک د جوړولو چارو پرانيسته وشوه




د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د عقرب مياشــتې په پنځمــه نېټه د کابل – جلال اباد لويــې لارې د دوهم لين ســړک د جوړولو چارو پرانيسته وکړه. په دغو مراسمو کې د ټولګټـــو محترم وزير ملا محمد عيســـى ثـــاني، د ننګرهار ولايتي مســـوولينو، د خصوصي سکتور اســـتازو او يوشمېر هېوادوالو هم ګډون کړی وو.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړ شـــوو مراســـمو ته وويل، د کابل – جلال اباد د لويې لارې دوهم لين ســـړک د هېـــواد د داخلي اتصـــال او ځمکني ترانســـپورټ په برخه کې هغه مهمه پروژه ده، چې دوه ستر تجارتي او ســـتراتيژيک ولايتونه کابـــل او ننګرهار په کمه فاصله يو له بل سره نښلوي. محترم ملا صاحب زياته کړه، د دغو دوو مهمو اقتصادي، تجارتي او ترانزيتي ښارونو ترمنځ د ترانسپورټ اسانتيا نه يوازې کورنی سوداګری ته وده ورکوي، بلکې له سيمې او نړۍ سره زموږ د سوداګريزو اړيکو او مناســـباتو په پراختيا کې هم مهم رول لري او د هېواد له ملي اقتصاد سره مرسته کولی شي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، دغه سړک د عاليقدر اميرالمؤمنين شـــيخ صاحب حفظه الله د حکم پر اســـاس د کابل – جلال اباد پر لويه لار د تلونکو وسايطو او عراده جاتو څخه د مغوی د نوعيت په تفکيک د ټاکل شوي حق العبور په بـــدل کې جوړېږي. دا محصول بـــه د ټولګټو وزارت په ځانګړي بانکي حساب کې په شفافه توګه جمع، بانک ته به تحويل او د ماليې وزارت به يې د مصرف او عملياتي اړتياوو اړوند اړيني او عاجلې اسانتياوې برابروي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې لارې ارزښـــت ته په اشارې سره وويل، د کابل – جلال اباد لويې لارې د دوهم لين سـړک په جوړېدو سره به د دې لارې پر لومړي سړک ګڼــه ګونه راکمه او د ترافيکي پېښـــو کچه به راټيټه شي. همدارنګه به د تګ راتګ اسانتياوې برابرې، د سوداګريزو توکو د لېږد بهير به ګړندی، خوندي او کم لګښـــته شي او همدا راز به د لارې په اوږدو کې کوچني او منځني کاروبارونه وغوړېږي.

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال زياته کړه، د داخلي ترانسپورټ معياري رغول او پياوړتيا د سيمه‌ييز اتصال لپاره لومړنی شرط دی؛ داخلي لويې لارې او سړکونه له يوې خوا د هېواد ولايتونه يو له بل سره نښـــلوي او له بلې خوا همدا ســـړکونه د سيمې د هېوادونو سره د ســـيمه‌ييز ترانسپورټي اتصال په برخه کې تر ټولو اساسي رول لوبوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د غونډې په پای کې ټولو هېوادوالو ته د دې مهمې پروژې مبارکي وويله او د سيمې له اوسيدونکو څخه يې وغوښتل چې د تطبيق په برخه کې يې له اړوندو مسوولينو سره لازمه همکاري وکړي. همداراز يې د پروژې تطبيق کوونکو تخنيکي ټيمونو ته سپارښتنه وکړه چې دا مهمه پروژه د ټولو معيارونو په پام کې نيولو سره په ښـــه ډول تطبيق کړي.

د يادونې وړ ده چې د کابل – جلال اباد دوهم لين سړک چې شـــاوخوا ۱۵۰ کيلو متره اوږدوالی لـــري، د کابل بګراميو ولســـوالۍ څخه پيل د کابل ولايت خاکجبـــار، د ننګرهار ولايت د حصارک، خوګياڼيو او سرخرود ولســـواليو څخه له تېرېدو وروسته د ننګرهار د حلقوي سړک سره نښلول کېږي. د دغه ســـړک د لومړي فاز د لومړي لاټ چې ۲۲ کيلومتره اوږدوالی لري، د اساسي جوړوني چارې پيل شوې.

# طرح های تولید صدها میگاوات برق در داخل کشور مورد بحث قرار گرفت

جلسهٔ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی به تاریخ اول عقـرب ۱۴۰۳خورشـیدی در قصر مرمریـن برگزار گردید. به جلسه طبق اجندا طرح های تولید ۵۰ میگاوات بـرق از گاز طبیعـی در ولایـت جوزجـان، تولید ۱۰۰ میگاوات برق از ذغال ســنگ در ولسوالی سروبی ولایت کابـل، تولید برق از کثافات جامد در ولایت کابل و تولید ده ها میگاوات برق بادی در ولایت سمنگان، کمپلکس زراعتی و همچنـــان احداث سردخانه به ظرفیت پنج هزار تن در ولایت غزنی ارایه گردید.

در جلسه پس از ارزیابی همه جانبه طرح های مذکور، به کمیته های مؤظف وظیفه ســپرده شد، تا با شرکت های ارایه دهنـــده طرح ها بحث نموده و گـــزارش خود را در مدت تعین شـــده به کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی ارایه نمایند.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټـولنیزو مسایلـو په برخـه کـې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبـادی


# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د سالنګونو لویې لارې له کاري بهیر څخه لیدنه وکړه



د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبد الغني برادر اخوند د ســالنګونو لویې لارې لــه کاري بهیر څخه لیدنــه وکــړه. د دغه لیدنې پــر مهال د ټولګټــو وزارت سرپرست وزیر محترم ملا محمد عیسی ثاني او یوشمیر نورو مسوولینو هم حضور درلود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د سالنګونو لویې لارې د بیارغونې پر ترسره شــوو کارونو خوښي څرګنده کړه او د یادي پروژې مسوولینو ته یې د دې ملي پروژې د کار د غوره کیفیت او په ټاکلي وخت د بشــپړېدو په هکله لازمي لارښوونې وکړې. محترم ملا صاحب د قراردادي شرکتونو مســوولینو، تطبیق کوونکو ټیمونو او فني کارکوونکو سره د لیدنې پر مهال وویــل، د هیواد د ابادۍ لپاره باید په ګډه کار وکړو او دا د ویاړ ځای دی چې تاسو یې په بیارغونه کې برخه اخلئ. د سالنګونو لویې لارې د بیارغونې کار د ټولګټو وزارت تر نظارت لاندې له خصوصي سکتور سره په دریبو برخو کې قرارداد شوی، چې اوسمهال یې له تونل څخه تر ۱۶مــې ګالرۍ پورې د سي ټي بي او کانګریټ اچونې کار بشپړ شوی او په شمالي او جنوبي سالنګ کې د ۱۰ ګالریو د بیارغونــې کار جریان لــري. د یادونې وړ ده چې د یادو ګالریو پر بیارغونې سربېره په شمالي سالنګ کې د خنجان – دوشي سړک د اسفالټ اچونې کار هم جریان لري.

---

## در ۹ ماه اول سال ۲۰۲۴ میلادی
## به ارزش حدود ۷۳۷ میلیون دالر
## محصولات زراعتی به کشورهای خارجی صادر شده است



### محصولات زراعتی صادر شده

| محصولات | به میلیون دالر | محصولات | به میلیون دالر |
|---|---|---|---|
| پنبه | ۱۶۲ | زیره | ۳۰ |
| کشمش | ۹۳ | ماش | ۲۲ |
| هنگ | ۸۰ | پسته | ۲۱ |
| انجیر | ۹۷ | انگور | ۱۵ |
| پیاز | ۳۷ | سیب | ۱۳ |
| زعفران | ۳۵ | تنباکو | ۱۳ |
| بادنجان رومی | ۳۵ | نباتات طبی | ۱۳ |
| زردالو | ۳۰ | بادرنگ | ۱۰ |
| بادام | ۳۰ | کچالو | ۱ |



### کشـــورهـــا



۱ ایـــران
۲ جـــرمنی
۳ پاکستـان
۴ ترکیـــه
۵ هندوستان
۶ چیـــن
۷ روســیـــه
۸ قزاقستان
۹ امارات متحده عربی
۱۰ ازبیکستان
۱۱ هالنـــد
۱۲ و سایر کشور ها

---

## د روان لـمریز کال پــه جـریان کــې
## د کورنیو تولیداتو او کرنیزو محصولاتو څخه د ملاتړ په موخه
## لسګونه نندارتـونـه جـوړ شــوي

■ ملي او نړیوال نندارتونونه
■ کورني نندارتونونه

**ملي او نړیوال نندارتونونه:**

- په کابل کــې افغان – قزاق سوداګریز فورم
- د کرنیـــزو محصولاتو ۳۰م پسرلنی نندارتون
- د افغانستان – ازبیکستان سوداګریز فورم
- د امام ابوحنیفه درېیم ملي او نړیوال نندارتون
- د کرنیـــزو او مالـــداری محصولاتـــو ۳۱م خزاني نندارتون
- په الماتا کې افغان – قزاق سوداګریز فورم

**کورني نندارتونونه:**

- پکتیا – افغـــان تولیداتو نندارتون
- بدخشـــان – کورنیو تولیداتو نندارتون
- میدان وردګ– افغان تولیداتو نندارتون
- بامیان– ګنجینه افغانستان نندارتون
- پروان– کورنیو تولیداتو نندارتون
- هـرات – عالیست افغانیست نندارتون
- کابل– د افغانستان اقتصادي پرمختګ نندارتون
- ننګرهار – کورنیو تولیداتو نندارتون
- بلخ – مولانا جلال الدین محمد بلخي لاسي صنایعو نندارتون
- خوست – ګنجینه نندارتون
- او داسې نور



**نندارې ته وړاندې شوي تولیدات او محصولات:**

صنعتـــي تولیـــدات او کرنیز محصولات، غالۍ، قیمتي او نیمه قیمتي ډبرې...

**لاسلیک شوي تړونونه:**

په دې نندارتونونو کې د افغان او بهرنیـــو ســـوداګرو ترمنځ د میلیونونـــو ډالرو په ارزښـــت تړونونه‌لاسلیک شوي دي.

**د نندارتونونو موقعیت:**

قزاقستان الماتا ښار، پلازمېنه کابـــل او د هېـــواد بېلابېل ولایتونه

## د اسلامي امارت په راتګ سره د زېربنايي پروژو په تدارکاتي پروسو کې روڼتيا او سرعت رامنځته شوی



اسلامي امارت د هېواد بيارغونې په موخه هڅه کوي چې په مختلفو سکټورونو کې بېلابېلې زېربنايي پروژې عملي کړي. په همدې موخه د ملي تدارکاتو کمېسيون په خپلو نوبتي غونډو کې د زېربنايي پروژو په تدارکاتي پروســو کـــې لا روڼتيا او چټکتيا رامنځته کړې ده.

د ياد کمېســيون په جوړو شـــويو غونډو کې تر دې مهاله د لسګونو ميلياردونو افغانيو په ارزښت پروژې منظورې شوې دي چې د يو شمېر چارې يې بشپړې او پر يو شمېر يې لا هم کار روان دی. د روان ۱۴۰۳لمريــز کال لـــه پيله بيا تر دې مهاله ددې کمېسيون په جوړو شويو غونډو کې د ۳۵ ميلیارده افغانيو په ارزښت ۱۲۴ بېلا بېلې پروژې منظورې شوې دي.

په دغو پروژو کې چې شمېر يې ۱۲۴ ته رسېږي، د لويو لارو، ښاري سړکونو، بندونو او کانالونو، استنادي ديوالونو، روغتيايي مرکزونو، هوايـــي ډګرونو، ريل پټلی جوړولـــو او بيارغونې، مخابراتي او انټرنيتي خدماتو وړاندې کولو، د اوبو رسولو شبکو، د برېښـــنا توليدي شبکو، کرنيزو ځمکو او تحصيلي بنسټونو پراختيا پروژې شاملې دي.

يادې پروژې د هېواد د پلازمېنې کابل په ګډون په بادغيس، فارياب، هرات، بلخ، نيمروز، نورستان، کونړ، کندهار، زابل او يو شمېر نورو ولايتونو کې پلي کېږي.

ددې پروژو په بشـــپړېدو سره نه يـــوازې د هېواد په بېلا بېلو سکټورونو کې پرمختګونه رامنځته کېږي، بلکې ترڅنګ يې زرګونو کسانو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه هم برابره شوې ده.

## جهت بازاریابی تولیدات داخلی و محصولات زراعتی ده‌ها نمایشگاه برگذار شده است



امارت اسلامی تلاش می کند تا با برگزاری نمایشگاه‌ها در داخـــل و خارج کشـــور، مارکیت برای تولیـــدات داخلی و محصولات زراعتی پیدا، سطح صادرات را افزایش داده و از این طریق راه برای توسعه تجارت هموار سازد.

در دنیـــای امروزی، هدف از برگزاری هر نوع نمایشـــگاه، معرفی محصولات جدید، ارائهٔ معلومات، رشد ظرفیت ها و همچنان پیشکش نمودن طرزالعمل های جدید در مدیریت صنعت است که همه این ها بر توسعه صادرات و دسترسی به بازارهای مناسب تمام می شوند.

با توجه به اهمیت نمایشـــگاه‌ها، امارت اسلامی در بیش از سه ســـال گذشته، ده‌ها نمایشـــگاه را در داخل و خارج از کشور برگزار نموده اســـت. به همین دلیل سطح صادرات نسبت به سال های گذشته روز به روز افزایش یافته و تجارت در حال گسترش است.

از آغاز سال جاری ۱۴۰۳ خورشیدی تاکنون ده‌ها نمایشگاه محصولات زراعتی و تولیدات صنعتی در داخل و خارج از کشـــور راه انـــدازی گردیده که نمونه های خـــوب آن فورم تجارتی افغان ـ قزاق، ۳۰ مین نمایشگاه بهاری محصولات زراعتی، فورم تجارتی افغانســـتان ـ ازبیکســـتان، سومین نمایشگاه ملی و بین المللی امام ابوحنیفه، ۳۱ مین نمایشگاه خزانی محصولات زراعتی و مالداری و نمایشـــگاه تجارتی افغان ـ قزاق در آلماتا پایتخت قزاقستان است.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در مراسم افتتاح نمایشگاه ها با اشـــاره به ارزش نمایشگاه‌ها گفته، حکومت ها تلاش دارند تا جهت معرفی و بازاریابی محصولات شان در داخل و خارج از کشور نمایشـــگاه‌ها را راه اندازی نمایند، تا تجارت رشد کرده و در این عرصه به سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی زمینه مساعد گردد.

در این نمایشـــگاه‌ها در کنار تولیدات داخلی و محصولات زراعتی، تولیدات صنعتی خارجی نیز به نمایش گذاشته شده بود. در جریان این نمایشـــگاه‌ها بـــه ارزش میلیون ها دالر قراردادهـــای تجارتی بین تجاران افغـــان و خارجی نیز به امضاء رسیده است.

## DEPUTY PRIME MINISTER FOR ECONOMIC AFFAIRS INSPECTS PROGRESS ON THE SALANG HIGHWAY RECONSTRUCTION



Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy Prime Minister for Economic Affairs, conducted an inspection of the ongoing work on the Salang Highway. During this visit, the acting Minister of Public Works, Mullah Muhammad Isa Thani, and several other officials were also present.

The Deputy Prime Minister expressed his satisfaction with the completed reconstruction efforts on the Salang Highway and provided necessary instructions to the project officials regarding maintaining high standards of quality and ensuring the project's timely completion. His Excellency emphasized during meetings with the contractors, implementation teams, and technical staff that rebuilding the country is a collective responsibility and a source of pride, highlighting the importance of their contribution to this national project.

The reconstruction of the Salang Highway is contracted in three phases between the Ministry of Public Works and the private sector. Currently, the work from the tunnel to the 16th rockfall barrier, including the application of CTB and concrete layers, has been completed, and reconstruction of 10 rockfall barriers in both the northern and southern Salang sections is ongoing.

Additionally, it is worth mentioning that alongside the reconstruction of these rockfall barriers, asphalt paving of the Khanjan-Doshi road in the northern Salang region is also in progress.




| Products | million USD | Products | million USD |
|---|---|---|---|
| cotton | 162 | cumin | 30 |
| raisins | 93 | mung bean | 22 |
| alfalfa (inje) | 80 | pistachios | 21 |
| figs | 97 | grapes | 15 |
| onions | 37 | apples | 13 |
| saffron | 35 | tobacco | 13 |
| tomatoes | 35 | medicinal Herbs | 13 |
| apricots | 30 | cucumbers | 10 |
| almonds | 30 | potatoes | 1 |

## TRANSPARENCY AND SPEED IN INFRASTRUCTURE PROJECT PROCUREMENT WITH THE RE-ESTABLISHMENT OF THE ISLAMIC EMIRATE

Since the re-establishment of the Islamic Emirate, there has been increased transparency and speed in the procurement processes for infrastructure projects aimed at the country's reconstruction. To support Afghanistan's rebuilding efforts, the National Procurement Commission has introduced greater transparency and efficiency in the procurement processes for various infrastructure projects during its regular meetings.

So far, projects worth tens of billions of Afghanis have been approved in these meetings. Some of these projects have already been completed, while others are still ongoing. From the start of the year 1403 SH until now, the commission has approved 124 different projects valued at 35 billion Afghanis.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اوونيزه آبادي
هفته‌نامه آبادی

These 124 projects include the construction of major highways, urban roads, dams and canals, retaining walls, healthcare centers, airports, railway construction and rehabilitation, the provision of telecommunications and internet services, water supply networks, power generation networks, the development of agricultural lands, and the expansion of educational institutions.



These projects are being implemented not only in the capital city of Kabul but also in provinces such as Badghis, Faryab, Herat, Balkh, Nimroz, Nuristan, Kunar, Kandahar, Zabul, and several others.

Once completed, these projects will not only lead to significant progress across various sectors of the country but will also provide direct and indirect employment opportunities for thousands of people.

## A QUICK LOOK AT THE ECONOMIC VALUE OF
# TOTI MAIDAN GAS



**By:** Qais Ahmad

### Introduction

From the perspective of economics, foreign investment is considered one of the fundamental needs for economic growth in countries like Afghanistan. The reason is that the necessary resources and advanced technology for economic development are not available within the country. However, the advantage lies in the fact that there are existing opportunities for investment to fill this gap.

The Islamic Emirate has recognized the need for foreign investment and, in response, has assured all investors, especially foreign ones, of full cooperation and support. It has identified all potential investment opportunities, making the process easy and transparent.



As a result of these facilitative measures, the level of foreign investment in Afghanistan has increased recently. A prime example of this is the recent $1 billion investment by an Uzbek company in the Toti Maidan gas fields in Faryab province. This investment is considered a significant step in the country's economic

growth, and we will briefly discuss its economic value.

## Toti Maden Gas Reserves

Afghanistan is among the countries with abundant minerals and extensive underground natural resources, both regionally and globally. Gas is one of these resources, discovered in various parts of the country, with total reserves estimated between 100 to 500 billion cubic meters. The Toti Maidan gas reserves in Faryab province were identified years ago by foreign experts, but practical exploration and extraction had not begun due to continuous wars, occupation, and insecurity in the country. With the rise of the Islamic Emirate to power and the establishment of nationwide security, an unprecedented opportunity was created to extract various minerals and underground resources, including the Toti Maidan gas reserves. Taking advantage of this opportunity, the Islamic Emirate signed an exploration and extraction agreement for the Toti Maidan gas with an Uzbek company, in line with foreign investment principles. This contract spans 10 years, extendable to 25 years. According to the contract, the company will invest $100 million in the first year and a total of $1 billion over 10 years, while also establishing a 100-megawatt gas power plant within the first two years. In the first three years, the company will conduct a 2D survey over 1,500 square kilometers and a 3D survey over 1,000 square kilometers.

The Toti Maidan gas reserves are located in Faryab province, covering an area of approximately 7,000 square kilometers. It is estimated that the region holds around 30 billion cubic meters of gas, which, once extraction begins, will significantly meet the gas needs of the Afghan people.

## Economic Value of the Toti Maidan Gas

Afghanistan imports its required gas from countries like Turkmenistan, Iran,



Kyrgyzstan, Russia, and Tajikistan, with annual imports costing hundreds of millions of dollars. According to the Ministry of Industry and Commerce, from January to September of the current year, Afghanistan imported over 734,000 tons of gas. As the cold winter season approaches, the demand for gas increases significantly.

These gas imports often face issues, particularly during winter when many trade routes are covered in snow, leading to delays and steep price hikes, making gas unaffordable for many. This is while vast underground reserves of hundreds of billions of cubic meters of gas remain untapped within the country.

To address this issue, the Islamic Emirate has initiated efforts to extract gas from domestic sources, exemplified by the exploration and extraction of the Toti Maidan gas reserves. This initiative is a significant step toward the development and strengthening of the energy sector, which will bring Afghanistan closer to self-sufficiency in a critical area.

Afghanistan has an imbalanced trade balance, with imports outweighing exports, largely due to limited domestic production. The commencement of the extraction of these gas reserves will increase the overall gas production within the country, meeting local needs at a reasonable and affordable price.

The exploration and extraction of these reserves will not only prevent the outflow of capital from the country but also attract significant foreign investment, amounting to $1 billion. This investment will introduce advanced technology, provide Afghan workers with valuable experience in gas exploration and extraction, and eventually enable them to manage this vital sector independently.

Attracting such large-scale foreign investment will also encourage other investors to take advantage of the emerging opportunities in Afghanistan. The most significant benefit of attracting foreign investment is that it will strengthen Afghanistan's economic credibility in the region.

This investment will trigger developmental projects in Faryab province, including the construction of roads to access the gas fields, processing plants, laboratories, and large-scale storage facilities. A major market for gas trade will emerge, transforming the province into a

commercial hub.

With the extraction of Toti Maidan gas, Afghanistan's gas market will stabilize, shifting from reliance on imports to a steady supply, which will positively impact overall trade and contribute to the country's economic growth.

In addition to gas exploration and extraction, the contracted company will build a 100-megawatt gas power plant in the province. This is a major step forward for an underdeveloped province. Industrial parks will be established, and significant investment will be attracted through the generated electricity, promoting industrial growth.

The people of Faryab, who largely rely on agriculture and livestock, will benefit from the establishment of standardized centers for packaging agricultural products and processing dairy goods, helping farmers and herders sell their products more efficiently.

The power plant will also bring electricity to many areas in Faryab province currently without power. Government offices, educational institutions, and most importantly, hospitals in the provincial capital and districts will have a steady electricity supply, ensuring timely and improved services for the people.

The start of Toti Maidan gas exploration and extraction by the Uzbek company will create thousands of direct and indirect job opportunities, positively affecting the standard of living for many.

## Conclusion

The initiation of the exploration and extraction of Toti Maidan gas is considered a significant step in the growth and strengthening of Afghanistan's energy sector, bringing the country closer to self-sufficiency in a key area. This will meet Afghanistan's gas needs at an affordable price and create thousands of job opportunities within the country.

The $1 billion investment in these gas reserves will not only introduce advanced technology but also play a crucial role in attracting further foreign investment. The construction of a 100-megawatt gas power plant in this area will stimulate industrial growth and expand trade in Faryab province.

Residents of this underdeveloped province will benefit from a stable electricity supply, alongside the development of infrastructure and progress in various sectors.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانی
پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۷,۳۵؋ | ۶۷,۴۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۳۳؋ | ۲۳۳؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۲۲؋ | ۱,۲۲؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۲,۸۵؋ | ۷۲,۹۰؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۶۹؋ | ۰,۶۹؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۰۱؋ | ۸۰۲؋ |
| ۱ | انگليسي پونډ | ۸۷,۳۷؋ | ۸۷,۴۳؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۷,۹۳؋ | ۱۷,۹۵؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۳۴؋ | ۱۸,۳۵؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۴۵؋ | ۹,۴۶؋ |

